مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۱/۱۰/۲۱

لیکونکی: Brüder grimm
ژباړه: رنا ګل اریوبزی

# د رې لټـــان

## د ماشومانو له پاره لنډه کیسه

یو پاچا درې زامن ورلودل، درې واړه یو شان په ګران وو او نه پو هیده چې د مرګ وروسته کوم یوه ته خپله پا چاهي وروسپاري.

کله چې د مرګ وخت یې راورسید او په بستر کې پروت و، درې واړه یې راوغوښتل او ورته ویې ویل چې:

«ګرانو زامنو!

ما د ځان سره څه فکر وکړ او غواړم چې درته ویې وایم او هغه هم دا چې هر یو چې په تاسي کې تر نورو زیات لټ وي، هغه باید زما تر مرګ وروسته پاچا شي.»

مشر زوی یې و ویل چې:

«که داسي وي نو پاچاهي زما حق دی، ځکه زه دومره لټ یم چې دویده کیدو په وخت مې په ستر ګو کې خاځکي راوځاځي، نه یې پاکوم او غواړم چې ویده شم.»

دوهم زوی یې پورته شو او ویې ویل چې:

«پلاره دا پاچاهي زما حق دی، ځکه زه دومره لټه یم چې که اور ته کښینم، نو که پونده مې هم وسوزي، پښه نه شم راټولوم.»

هلته یې دریم زوی نیغ را وچت شو او ویې ویل چې:

«نه پلاره! دا پاچاهي زما حق دی، ځکه زه تر هغه برید پورې لټه یم چې که د دار پړی مې په غاړه پروت وي، څوک یوه تیره چاړه په لاس کې راکړي او د پړي د غوڅولو اجازه هم ولرم، په دار خوښ یم خو د پړي دغوڅولو وس نه لرم.»

کله چې پلا د وروستي زوی خبرې واوریدې، نو ویې ویل چې:

« ته تر نورو وړاندي یې او باید پاچا شي.»

Liste von Märchen - Grimms Märchen - Grimmstories.com



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ